AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

۲۰۲۰/۰۹/۲۴ لیکوالان: لیون پولادا او لیلا پولادا Leon B. Poullada & Leila D.J Poullada
مترجم: عبدالباري جهاني

# د افغانستان شاهي دولت او متحده ایالات

## The Kingdom of Afghanistan and the United States: 1828-1973

خلورمه برخه

دا کتاب د متحده ایالاتو مورخ او ډیپلومات لیون پولادا او د هغه مېرمني لیلا پولادا لیکلی دی. که څه هم چي ټول کتاب د افغانستان او امریکاد اړیکو په اړه دی خو ځیني فصلونه یي د افغانستان له اوسنیو حالاتو سره مستقیم تړاو لري ما یي هغه د ترجمي لپاره انتخاب کړي دي. زه یقین لرم چي دا فصلونه به د افغانستان د تاریخ د علاقه مندانو او تاریخ د شاګردانو لپاره په زړه پوري وي.

## شپږم فصل

### د افغانستان دریځ ــ قانوني استدلال

افغانان، پر تاریخي او کلتوري حقایقو برسېره، ادعا کوي چي هغه تړونونه چي د ډیورنډ د کرښي ایجاد او منظورېدل ورباندي ولاړ دي هغه د اعتبار وړ نه دي. عبدالرحمن خان، چي دا تړون یي لاسلیک کړی دی، د انګرېزانو او افغانستان د دوهمي جګړي څخه وروسته، پخپله په ۱۸۸۰ کال کي د برتانیي په زور قدرت ته ورسېدی. برتانیي له څه وخت راهیسي د افغانانو خاوري ورڅخه لاندي کولي. په ۱۸۷۷ کي یي دیر، سوات، باجوړ او چترال په خپل قلمرو کي شامل کړل. په ۱۸۷۹ کال کي یي، د ګندمک د تړون له لاري، د خیبر د ستراتیژیکي لاري کنترول واخیست او په لورلایي، ژوب، پښین، کویټه او نوشکي کي یي ډېري پراخي سیمي لاندي کړې. دوی د قبایلو په سیمه کي د خپلو پوځیانو زیاتولو ته زور ورکړ او دایمي ستراتیژیک پوځي مرکزونه یي تاٴسیس کړل. دوی د افغانستان خواته د اورګاډي خط وغځاوه او عبدالرحمن خان ویل دا لکه زما په زړه چي چاقو ننوتی.

دا په ۱۸۹۳ کال کي د پرمخ تللو د پالیسی یا فارورډ پالیسی د زور کلونه وه چي برتانیي عبدالرحمن ته پیشنهاد وکړ چي د قبیلوي سرحد په اوږدو کي له یوه ډول حل سره موافقه وکړي. کله چي دده د جواب ورکول وځنډول نو هغوی، په وچه کي راګیر، افغانستان ته د هند له لاري د وسلو تلل بند کړل چي امیر د داخلي ښورښونو د کرارولو لپاره سخت ضرورت ورته درلود. افغانان په دي برخه کي کره شواهد لري چي عبدالرحمن دغه تړون د برتانیي د سخت فشار له امله لاسلیک کړ. دوی ادعا کوي چي دغه موضوع د ډیورنډ تړون څکه له اعتباره غورځوي چي د هغه د لاسلیکولو لپاره آزاد انتخاب موجود نه وو. د اجبار له امله، د دې تړون غیرقانوني بلل کمزوری دلیل دی څکه چي عبدالرحمن به تر فشار لاندي وو مګر هغه د قوي ارادي څښتن واکمن وو. دا احتمال نه لري چي برتانیي به پر ده باندي دونه فشار اچولی وي چي د ده اراده به یي اړولي وي. سره له هغه هم یو لیکوال عبدالرحمن په جال کي ګیر سړی بولي.

افغانان تر دې یو زورور دلیل دا وړاندي کوي چي وایي د دغه تړون د ماهیت په باره کي له افغانانو سره سم تفاهم نه وو سوی. حتی که د دواړو خواوو ترمنځ سم تفاهم سوی هم وو، د دواړو خواوو له وروستي سلوک څخه ښکاري چي پر هغه متن چي موافقه سوي وه له هغه سره توپیر لري چي وروسته خپور سو. له لویه سره، د خبرو لپاره ځای او فضا د غلط تفاهم لپاره انتخاب سوي وه. سرمارتیمر ډیورنډ د ۱۸۹۳ کال د سپتمبر په میاشت کي کابل ته ورسېدی او د تړون پر سر چنو وهلو د نومبر تر میاشتي پوري دوام وکړ. څرنګه چي امیر په انګلیسي ژبه نه پوهېدی نو ډیورنډ، چي ځان یي په فارسي ژبه کي استاد باله، په فارسي ژبه خبري کولي او په منځ کي ترجمان حاضر نه وو. په داسي یوه فضا کي د سهوي او خطا احتمال دونه زیات دی چي هر تجربه کار ډیپلومات په پوهیږي. هوښیار امیر،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

بیا هم، خپل یو منشي د پردې تر شا کښېنولی وو چي په دقت سره یاداشتونه واخلي. د ژبي تر ستونزي چي لا تېر سو، امیر په دې خبرو اصلاً خوښ نه وو او په هر ځای کي يې سوالونه کول، دلایل يې ویل او یوه خبره به يې څو ځله کوله. شواهد ښيي چي امیر فکر کاوه چي برتانیه د بین المللی سرحد د ټاکلو په غم کي نه ده بلکه د نفوذ سیمي ټاکي. سرحد پخپله یوه ساحه معرفي کوي نه یوه کرښه چي دواړو خواوو ته يې دوه هیوادونه پراته وي. سرحد کټ مټ په هغه معنی استعمالیږي لکه امریکایانو چي د لوېدیځ سرحد په باره کي خبري کولې.

عبدالرحمن په خپل ژوند کي سرحد ته د نفوذ د سیمي په سترګه کتل او په قبایلي سیمه کي به يې خپل مخالفین ځپل. ده په خپله سوانح کي لیکلي دي چي هیڅ وخت يې د پښتنو سیمه د تل لپاره د برتانیي خاوره نه ده بللې.

د هغه وخت او له هغه څخه وروسته په هند کي د برتانیي حکومتونو د ډیورنډ کرښې ته د بین المللی سرحد په سترګه نه دي کتلي. د ۱۸۹۴ کال د جولای پر لسمه، د موافقتامي له لاسلیک کېدلو څخه ډېر ژر وروسته، د هند حکومت لندن ته اطلاع ورکړه چي موږ په دې پوهیږو چي د علیاحضرتي حکومت پر دې خبري موافقه لري چي موږ په ټینګه د قبایلو د علاقي د الحاق نیت ردوو، بلکه غواړو هغه قبایل چي په دغه موافقه کي شامل دي تر خپل نفوذ لاندي راولو. په ۱۸۹۶ کال کي وایسرا لارډ ایلجین Elgin د هند لپاره د دولت خارجه وزیر همیلټن ته ولیکل« د ډیورنډ موافقتنامه د دې لپاره ترلاسه سوه چي په اوسني حالت کي د برتانیي د حکومت د نفوذ ساحه وټاکل سي. » په ۱۹۲۵ کال کي د برتانیي د پوځ یوه رسمي اخبار ولیکل:

«د ډیورنډ کرښه، په ۱۸۹۳ کال کي د هند د سرحد په حیث نه ده بلل سوې بلکه د امیر ختیځ او جنوبي سرحدونه پکښې تعین سوي او د دواړو حکومتونو د نفوذ د ساحې حدود پکښې ټاکل سوي دي هدف د برتانیي د واک د ساحي غځول دي نه د هند سرحد. »

همدغه دریځ د سیمون کمیسیون، چي په ۱۹۲۸ کال کي هند ته ولاړ ښکاره کړی دی. « برتانوي هند د حکومت تر اداري لاندي ساحو پوري دی. »

British India stops at the boundary of the Administered Areas.

د برتانیي له لومړنیو اعلامیو څخه ښکاري چي دوی دا نیت نه درلود چي د ډیورنډ تر کرښي پوري ټولي قبایلي سیمي په خپل حکومت پوري وتړي؛ بلکه غوښتل يې چي د نظم د لا بهترولو لپاره د نفوذ ساحه وټاکي. دا دریځ زیاتره برترۍ افاده کوي نه واکمني. که د دواړو خواوو ترمنځ د تفاهم په باره کي، دا خبري او د عبدالرحمن له خوا څرګندوني سره پرتله کړو او له ده څخه وروسته راغلو دوو حکومتونو دریځونو ته چي وګورو نو دا استدلال کولای سو چي تفاهم باید په دوو سطحو کي سوی وای. یا باید دواړو خواوو د دوو مختلفو شیانو په باره کي خبري سره کړي وای یعني برتانیي د یوه بین المللی سرحد او افغانانو د نفوذ د ساحې. په دې صورت کي به نو هیڅ تفاهم موجود نه وای او په نتیجه کي به هیڅ د اعتبار وړ تړون لاسلیک سوی نه وای. او یا باید دواړو خواوو پر عین شي خبري سره کړي وای، د نفوذ ساحه، چي په هغه باره کي تفاهم موجود وو او تړون به د اعتبار وړ وای. مګر په دې موافقتنامه کي هیڅ بین المللی سرحد ونه ټاکل سو او ښه ډېر وخت وروسته برتانیي فیصله وکړه چي هغه تړون د بین المللي سرحد د ایجادولو تړون وبولي.

تر کومه ځایه چي د ۱۹۰۵، ۱۹۱۹ او ۱۹۲۱ کال تړونونه دي نو په هغوی کي دا خبره څرګنده ده چي دوی وایي د دغه تړون قانوني اعتبار د مخکنیو تړونونو په اعتبار پوري اړه لري. دوی په مشخصه توګه د ډیورنډ کرښه نه ده تایید کړې بلکه ویلي يې دي چي د دوی حکومت د مخکنیو افغان واکمنانو تعهدات منلي دي. د ۱۹۱۹ تړون وایي « د افغانستان حکومت هغه سرحدات مني چي فقید امیر حبیب الله د ۱۹۰۵ په تړون کي منلي وه» حبیب الله د ۱۹۰۵ په تړون کي ویلي دي « زه به د ۱۸۹۳ کال د تړون په برخه کي هغه سلوک غوره کړم لکه زما پلار عبدالرحمن چي غوره کړی وو » مګر موږ ولیدل چي عبدالرحمن په حقیقت کي هغه تړون هیڅ رعایت کړی نه دی. په دې حساب نو د وروستنیو تړونونو قانوني اعتبار. له هره اړخه، د ډیورنډ د تړون په ماهیت او اعتبار پوري اړه لري چي د نفوذ ساحې يې ټاکلي دي نه یو بین المللی سرحد.

افغانان د ډیورنډ د کرښي د قانوني اعتبار پر ردولو باندي د ښه ټینګار لپاره د ۱۹۲۱ کال تړون ته اشاره کوي چي وایي د تړون د ردولو لپاره درې کاله مهلت موجود دی چي یو کال مخکي باید اطلاع ورکړه سي. په ۱۹۴۹ کال کي د افغانستان لویي جرګې، چي تر ټولو باصلاحیته ملي مرجع ده، د ډیورنډ له تړون څخه نیولې بیا تر وروستي تړون پوري ټول رد کړل. په تېره بیا دا چي د ۱۹۲۱ کال له تړون سره یو لیک ضمیمه دی چي د سرحد پر ختیځه غاړه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

قبايلو سره د افغانستان علاقه پکښي ذکر سوې ده. افغانان دغه راز استدلال کوي چي پاکستان، د هند له خاوري څخه جلا کړه سوی، يو نوی هيواد دی. په دې حساب نو په برتانيه پسي سمدستي راغلی هيواد نه دی چي د برتانيي د هر ترون حقوق دي په ميراث ور ورسيږي. دوی په ملګرو ملتونو کي، د يوه نوي هيواد په حيث، د پاکستان قبولېدلو ته اشاره کوي او وايي چي هند همدغه شرايط درلودل مګر ونه منل سو.

افغانان استدلال کوي چي په ۱۹۴۷ کال کي د هند او پاکستان د بېلېدلو په وخت کي په شمال مغربي سرحدي ولايت کي د عمومي رايه ګيری په وخت کي د خود ارادیت د حق په باره کي پوښتنه نه ده سوې؛ چي له پښتنو سره يې ضمني وعده سوې وه خو په عوض کي يې پښتنو ته يوازي دوه انتخابه ورکړه: له هندو هند سره يو ځای کېږی او که له مسلمان پاکستان سره. همدغه ملاحظه د قبايلي سيمو د جرګو په برخه کي هم مطرح ده.

د افغانستان تاريخي، کلتوري او قانوني استدلال د هغوی د دقيقو ادعاوو په حيث، هيڅ وخت، سم تشريح سوی نه دی. دوی چي خپلي ادعاوي وړاندي کړي دي نو له يوه وخته تر بل پوري يې توپير کړی دی. د افغانستان د حکومت رسمي ادعا د افراطي نيشنليستو پښتنو له ادعاوو او تبليغاتو سره توپير لري.عصري پلټني او تحقيقات د ادعاوو د توپير له امله چنداني نتيجي ته نه دي رسېدلي ځکه چي دا ادعاوي د لوی افغانستان له غوښتني څخه نيولي چي د اوسني پاکستان ډېره برخه د هند تر سمندره پوري په بر کي نيسي؛ د ډيورنډ د کرښي پر ختيځه غاړه باندي د پښتنو قبايلو د حقوقو او ښېګڼو تر ساده غوښتني پوري رسيږي. که په ښلو وختونو کي د افغانستان د حکومت رسمي ادعاوو ته وکتل سي او غوښتني له تبليغاتو څخه را بېلي کړه سي نو درې غوښتني پاتيږي: د ډيورنډ د کرښي پر ختيځه غاړه د اوسېدونکو پښتنو لپاره د سرنوشت د ټاکلو حق، د دې ادعا پرله پسي ردول چي وايي افغانستان د خاوري پراختيا غواړي او د دې خبري پرله پسي ضمانتونه چي افغانستان غواړي دا اختلاف د سوله ايزو مذاکراتو له لاري وسي.
د پاکستان دريځ

د پښتونستان په قضيه کي د پاکستان دريځ ډېر مستقيم، لږ پرله پېچلی، پر منطق، قانوني اساساتو او واقعي سياست باندي ولاړ دی. پاکستان ادعا کوي چي د افغانستان ادعاوي له پښتنو سره پر تاريخي اړيکو ولاړي دي او پرته له پخواني تاريخ څخه بل اساس نه لري. که ملي سرحدات د پخواني تاريخ په اساس، له سره، تقسيم سي. په نړۍ کي به لويه ګډوډي جوړه سي. دغه راز د کلتوري اړيکو په اساس ادعا يوه خالصه احساساتي غوښتنه ده او پر عصري واقعيتونو ولاړه نه ده. په نړۍ کي ډېري کلتوري ډلي پر ملي سرحدونو سره وېشلي سوي دي او په دې اساس د مځکو دعوې هسي بېځايه جنجالونه را پيدا کوي او بايد دغه راز دعوو ته اجازه ورنه کړه سي چي د ملتونو منظم سرحدونه اخلال کړي. د دې ترڅنګ د افغانستان پښتانه پخپله يو قام نه دی او له مختلفو ډلو څخه جوړ سوي دي. دوی په خپل هيواد کي د ټول نفوس په تناسب يو اقليت دی او هيڅکله به دا ونه مني چي شوروي اتحاد، په افغانستان کي، په اوزبيکو، ترکمنو، تاجکو او نورو اقليتونو، چي له شوروي اتحاد سره کلتوري او قومي خپلوي لري، دعوه وکړي.

پاکستان له قانوني اړخه دا ادعا کوي چي د ډيورنډ کرښي به په اساس کي نيمګړتياوي درلودلي وي؛ مګر هر څه چي دي هغه، په وروسته کي، افغانستان لړترلړه په دريو تړونونو کي منلي دي. دا کرښه د نړۍ اکثرو هيوادونو د بين المللی سرحد په حيث پېژندلي ده. برتانيي چي پخوا هر څه کړي دي هغه اوس نه سي مطرح کېدلای؛ مګر تر ۱۹۴۷ کال پوري، چي پاکستان ايجاد سو، برتانيي د ډيورنډ کرښه د هند د بين المللی سرحد په حيث وپېژندله. او د هغي فيصلي يا اقدام په اساس چي هند او پاکستان ته استقلال ورکړه سو دوی ته يې ټول هغه بين المللي حقوق او وجايب وسپارل چي مخکي د برتانيي حکومت درلودل. پاکستان وايي چي برتانيي وروسته، څو ځله، د ډيورنډ کرښه د پاکستان او افغانستان ترمنځ بين المللی سرحد بللی دی. په ۱۹۵۶ کال کي د جنوب ختيځي آسيا تړون SEATO چي برتانيه او متحده ايالات يې غړي وه د ډيورنډ کرښه په رسميت پېژندلي ده. نو په دې اساس هغه پښتانه چي د پاکستان په خوا کي ژوند کوي د پاکستان اتباع دي. او د افغانستان ادعا د پاکستان په داخلي چارو کي مداخله او له بين المللي قانون څخه سرغړونه ده.

که د سرنوشت د ټاکلو د حق مسلي ته وګورو نو که پښتانه مستقل هيواد وای او که د وروسته پاته افغانستان سره يو ځای وای تر دغه اوسني حالت به يې وضع بهتره نه بلکه خرابه وای. پاکستان ادعا کوي چي د څو محدودو ناراضيانو څخه پرته ، چي د افغانستان له خوا پارول کيږي، نور نو په پښتنو کي د خپلواکی غوښتنه عامه نه ده او نه څوک له افغانستان سره د يوځای کېدلو آرزو لري. د پاکستان د ۱۹۴۷ کال د عمومي رايه ګيری په اساس، چي د رايو د حق درلودونکو کسانو ۵۵ فيصدو اکثريت برخه پکښي واخيستله، ۹۹ فيصده خلکو له پاکستان سره د يو ځای کېدلو په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ګټه رايه ورکړه. قبيلوي جرګو هم د رايه ګيرى هغه نتيجه ومنله. که د افغانستان لپاره د پښتنو د سرنوشت د حق د ورکولو مسله دونه مهمه وي نو دوى ولي د افغانستان پښتانه له پښتونستان سره نه ګډوي؟

پاکستان وايى د افغانستان ادعا هسي، تر نقاب لاندي، د مځکو دعوه ده او غواړي له پاکستان څخه يو څه مځکه لاندي کړي او سمندر ته لاره پيدا کړي. د دې خبر ثبوت د افغانستان له هغي ادعا څخه کيږي چي غواړي بلوچستان هم په پښتونستان کي شامل کړي؛ په داسي حال کي چي پښتانه په بلوچستان کي يو وړوکى اقليت دى. ولي؟ پاکستان د دې سوال په جواب کي وايي: ځکه چي بلوچستان سمندري بندرونه لري. د افغانانو دا په سر سوې ده چي دا مځکي پخوا د دوى وې او غواړي چي پخوانى تاريخ او افتخارات له سره ژوندي کړي. پښتونستان په پاکستان کي د اختلافاتو د منځته راوړلو لپاره يوه تشه پلمه ده او د افغانستان واکمنه ډله، چي پخپله حتى په پښتو خبري نه سي کولاى او ژبه او کلتور يې ټول ايرانى سوى دى، غواړي خپل سياسي تجارت وربandي وکړي.

بالاخره پاکستان پر دې خبري ټينګار کوي چي د پښتونستان په مسله کي د هغه هيواد پر وجود او نظم باندي حمله کيږي. د پاکستان په ايالتونو کي مختلف قامونه او ډلي اوسيږي، پنجابيان، بلوڅان، چترالين، هونزه، پښتانه او نور. که هري ډلي او توکم ته د جلا کېدلو اجازه ورکړه سي نو بيا خو به پاکستان تباه سي. بنګال له پاکستان څخه بېل سو او ځانته يې د بنګله دېش په نوم بېل هيواد جوړ کړ؛ مګر هغه خو له پاکستان سره په زرګونو ميله فاصله درلوده او پاکستان له خپلي خاوري څخه دوهم ځل بېلېدل نه سي منلاى. د پښتنو سيمي د پاکستان له نورو علاقو سره ډېري نيژدې پرتي دي او که هري برخي ته د جلا کېدلو اجازه ورکړه سي دا د پاکستان لپاره د مرګ معنى لري. دا هغه سياسي واقعيتونه دي چي پاکستان يې مطرح کوي. پاکستان وايي که حتى د افغانستان ادعاوي کوم اساس هم ولري هغه هيواد يې به يې ځکه ونه مني چي ټول سياسي وجود يې له منځه ورسره ځي.

د پښتو نستان مسله ( ليکوال يې د پښتونستان زهر بولي. جهاني ) له دغو تاريخي پيښو څخه را پورته سوه چي هغه قانوني جنجالونه او سياسي لانجې دي. دې مسلې ډېري پراخي اغېزې لرلې او موږ به په راتلونکي فصل کي وربandي وږغيږو.

نوربيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ